سړی به د سړي شرمګاه ته نه ګوري، او ښځه به د ښځې شرمګاه ته نه ګوري

له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «سړی به د سړي شرمګاه ته نه ګوري، او ښځه به د ښځې شرمګاه ته نه ګوري او نه دې يو سړی له بل سړي سره په يوه جامه کې ځان پټوي او نه دې يوه ښځه له بلې ښځې سره په يوه جامه کې ځان پټوي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې منع فرمايلې ده چې يو سړی د بل سړي شرمګاه ته وګوري، يا دا چې يوه ښځه د بلې ښځې شرمګاه ته وګوري. عورت: هر هغه څه ته وايي چې د ښکاره کېدو پر مهال يې د شرم احساس کيږي او د سړي عورت د هغه د نوم او زنګنونو تر منځ دی، او ښځه د پردیو سړيو لپاره ټوله عورت ده او ښځو او نورو محارمو ته هغه ځايونه ښکارولی شي چې د عادت له مخې يې په کور کې ښکاره کوي. او رسول الله صلی الله عليه وسلم لدې منع فرمايلې ده چې يو سړی له بل سړي سره په يو لباس او يا د يوې پرستنې لاندې بربنډ ننوځي او لدې چې يوه ښځه له بلې ښځې سره په يو څادر کې بربنډه ننوځي، ځکه دا د دې لامل ګرځي چې يو د بل عورت لمس کړي، پداسې حال کې چې له لمس کولو څخه يې منع راغلې ده، لکه څرنګه چې ورته له لېدلو څخه راغلې ده، بلکې لمس کول يې لاپسې په ټينګار سره منع شوي، او ځکه چې لدې څخه لوی فساد رامنځته کيږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8904